د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حـــــج او اوقافـــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

**دجمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۳/ رمضان المبارک /۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۱/ حوت/۱۴۰۴هـ، ش**

# د رمضان المبارک د میاشتې فضائل، او د روژې اړوند شرعي ضروري مسائل

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله الذي هدانا للإسلام وما كنا لهنتدي لولا أن هدانا الله، والحمد لله الذي فضل شهر رمضان المبارك على سائر الشهور وجعله موسما عظيما من مواسم الخيرات، فيه يتنافس المؤمنون على الطاعات والبذل والمعروف والحسنات، تضاعف فيه الأعمال الصالحات، ، وترفع فيه الدرجات، وتجاب الدعوات، وهو شهر الخيرات والبركات، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، فرض على عباده الصّيام، وندبهم إلى التعبّد له بالسّجود والرّكوع والقيام، تبارك اسمه ذو الجلال والإكرام، وأشهد أنّ محمّدا عبده ورسوله، وصفيّه وخليله، الدّاعي والهادي بإذن ربّه إلى دار السّلام، صلّى الله عليه وعلى آله وصحبه وكلّ من سار على نهجه واستقام، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى بعد اعوذ بالله من الشيطان الرجيم:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ * أَيَّاماً مَعْدُودَاتٍ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضاً أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْراً فَهُوَ خَيْرٌ لَهُ وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ) البقرة:(۱۸۴)

**درنو او عزتمنو حاضرینو او سامعینو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

رمضان المبارک میاشت دومره عظیم فضیلت لري ، چې ددې میاشتې روژه په تیرو امتونو هم فرض وه.

الله جل جلاله فرمایلي دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ).البقرة:(۱۸۳)

ترجمه:ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنان!) فرض کړی شوې ده په تاسې باندې روژه لکه چې فرض کړی شوې وه په هغو کسانو چې پخوا له تاسې څخه وو (لکه پخواني امتونه او پیغمبران تر آدمه پورې). لپاره د دې چې تاسې ځان وساتئ (له ګناهونو څخه او پرهیز ګاران شئ ځکه چې روژه د شهواني قوې ماتوونکې ده).

مفسرین ددې آیت په تفسیر کې وایي، چې دموسی علیه السلام او عیسی علیه السلام پر قومونو باندې روژه نیول فرض وه ، خو هغوی په کې تغییر راوستلو. په یو بل روایت کې راځي، چې په نصاراوو یوه میاشت روژه نیول فرض وه ، خو د هغو د پیرانو له خوا په کې زیادت راوستل شو او د روژو تعداد یې پنځوسو ورځو ته ورسولو.

امام مجاهد او قتاده رحمهما الله وايي، چې په ټولو امتونو د رمضان المبارک د مياشتې روژې نيول فرض ؤ. تفسير القرطبي (۲ /۲۷٤)
په پورتني مبارک آيت کې د رمضان المبارک په اړه ترغيب موجوددی او همدارنگه په دې آيت کې د روژو فضيلت هم موجوددی. يعنې دا هغه مهمه فريضه ده چې په پخوانيو امتونو هم فرض وه.

**د رمضان المبارک د روژو د فرضيت مخينه:**

روژه د هجرت په دوهم کال فرض شوې ده او په اجماع سره نبي عليه السلام د نهو رمضانونو روژې نيولي دي.

پر مسلمانانو د رمضان المبارک روژه په تدريجي ډول فرض شوه، کله چې د لومړي ځل لپاره روژه فرض شوه ، نو په لومړيو وختونو کې په اختياري توگه فرض شوی وه او هغه داسې چې روژه فرض وه ، خو مسلمانانو ته ددې اختيار ؤ ، چې که چاته به سخته نه وه ، نو هغو به روژه نيوله او که چيرې چا ته به دروژې نيول سخت ؤ، نو هغوی به مسکين ته خوراک د فديې په ډول ورکوله.

بيا کله چې مسلمانان د شريعت د احکامو سره عادت شول او له عبادتونو سره يې علاقه او مينه زياته شوه ، نو دا اختياري حالت منسوخ شو او روژه به هر يو کس چې کوم شرعي عذر به يې نه درلود حتماً نيوله.

په يو حديث شريف کې راځي:عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ - رضى الله عنه - أَنَّهُ قَالَ كُنَّا فِي رَمَضَانَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- مَنْ شَاءَ صَامَ وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ فَافْتَدَى بِطَعَامِ مِسْكِينٍ حَتَّى أُنْزِلَتْ هَذِهِ الآيَةُ (فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ). صحيح مسلم (۳/ ۱۵٤)، صحيح البخاري ت (۱۱/ ۳۵)

ژباړه: دحضرت سلمه بن اکوع رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي: وو مونږه د رمضان په مياشت کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې، چې د چا به خوښه وه روژه به يې نيوله او دچا به چې خوښه شوه روژه به يې ماته کړه او په فديه کې به يې مسکين ته طعام ورکړ، تر دې پورې چې دا آيت نازل شو: (فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ). البقرة:( ۱۸۵ )

بدرالدين عيني رحمه الله ددې احاديثو په شرحه کې وايي:(کان في بدء الإسلام فرض عليهم الصوم فاشتد عليهم فرخص لهم في الإفطار والفدية... فکانوا کذلك حتى نسختها:(فمن شهد منکم الشهر فليصمه).عمدة القاري شرح صحيح البخاري (۱٦/ ٤۷۲،٤۷۷)

ژباړه: د اسلام په پيل کې په هغوی(مسلمانانو باندې) روژه فرض شوه، نو سخته شوه نيول د روژې په هغو باندې ، نو رخصت ورته ورکړل شو په مابين د روژې د نيولو او د فديې د ورکولو ترمنځ . .. صحابه کرام په همدغه حالت کې وو، چې دغه اختياري حالت لره دې مبارک آيت منسوخ کړ:( فمن شهد منکم الشهر فليصمه).

بل داچې په ابتداء کې د روژې حکم داسې ؤ، چې چا به روژه ونيوله او د روژه ماتي څخه مخکې به ويده شو، بيابه ور باندې خوراک او څښاک (او جماع) بنده وه، تر سبا ورځې د روژه ماتي تر وخته پورې.بيا الله تعالی په مسلمانانو خصوصي رحم وکړ او که چيرې څوک به د روژه ماتي څخه مخکې ويده شو او يا به د روژه ماتي څخه وروسته ويده شو او له خوبه به را ويښ شو ، نو خوراک او څښاک او کوروالی ورته جائز شو.

په يو روايت کې راځي:عَنْ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ الرَّجُلُ صَائِمًا فَحَضَرَ الْإِفْطَارُ فَنَامَ قَبْلَ أَنْ يُفْطِرَ لَمْ يَأْكُلْ لَيْلَتَهُ وَلَا يَوْمَهُ حَتَّى يُمْسِيَ وَإِنَّ قَيْسَ بْنَ صِرْمَةَ الْأَنْصَارِيَّ كَانَ صَائِمًا فَلَمَّا حَضَرَ الْإِفْطَارُ أَتَى امْرَأَتَهُ فَقَالَ لَهَا أَعِنْدَكِ طَعَامٌ قَالَتْ لَا وَلَكِنْ أَنْطَلِقُ فَأَطْلُبُ لَكَ وَكَانَ يَوْمَهُ يَعْمَلُ فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ فَجَاءَتْهُ امْرَأَتُهُ فَلَمَّا رَأَتْهُ قَالَتْ خَيْبَةً لَكَ فَلَمَّا انْتَصَفَ النَّهَارُ غُشِيَ عَلَيْهِ فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ {أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ} فَفَرِحُوا بِهَا فَرَحًا شَدِيدًا وَنَزَلَتْ {وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمْ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنْ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ} صحيح البخاري ت (٤/ ۵۹۷)

ژباړه: د براء بن عازب رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وايي، چې وو د محمد صلی الله علیه وسلم اصحاب کرام کله به چې یو سړی روژه ؤ او د روژه ماتي وخت به راغی او هغه به ویده شو مخکې له دې چې روژه ماته کړي او بیا به راویښ شو، نو خوراک به یې نشو کولی هغه شپه او سبا ورځ ترڅو چې به ماښام شو(د روژه ماتي وخت به شو) ، بیشکه قیس بن صِرْمَةَ انصاري روژه ؤ، کله چې د روژه ماتي وخت راغی د خپلې ښځې خواته راغی او ورته یې وویل: آیا د (روژه ماتي لپاره ) څه شی لرې؟ هغې ورته وویل : نه ! مګر زه به لاړه شمه او ستا لپاره به د روژه ماتي لپاره څه ولټوم او حضرت قیس بن صرمه رضي الله عنه چې د ورځې به یې کار کولو سترګې ورباندې غالبه شوې(یعنې ویده شو)، په دغه وخت کې یې ښځه راغله کله چې یې ولیده چې قیس رضی الله عنه ویده شوی دی، نو داسې یې وویل: بد نصیبي دې وي تالره .

کله چې (سبا ) ورځ نیمه شوه بیهوشي ورباندې راغله ، نو دده دا حالت یاد کړل شو نبي علیه السلام ته، نو دا آیت مبارک نازل شو: {أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَائِكُمْ} (حلال کړل شوی دی تاسو ته په شپه د روژې کې نزدیکت خپلو ښځو ته)، نو صحابه کرام ډیر زیات خوشـحاله شـول او دا مبارک آیت هم نازل شـو : {وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ} البقرة:(۱۸۷)عمدة القاري (۱۶/ ۳۱۷)، تفسیر ابن کثیر (۱/ ۲۶۷)

**د رمضان المبارک د میاشتې فضائل:**

رمضان المبارک هغه ستره او بختوره میاشت ده، چې الله تعالی په کې د انسانانو د هدایت، نجات او سعادت کتاب قرآن کریم نازل کړی دی. الله جل جلاله فرمایلي دي:(شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدىً لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ).البقرة:( ۱۸۵)

ترجمه: میاشت د روژې هغه میاشت ده چې نازل کړی شوی دی په دې کې قرآن چې هدایت دی لپاره د خلقو او دلیلونه دي ښکاره (له جنسه د هغو شیانو) چې هغه لاره ښیي او بېلوونکی د حق او باطل دی .نو هر څوک چې وومي له تاسې (ای مکلفینو) دا میاشت نو ضرور دې روژه ونیسي د هغې (میاشتې).

یعنې قرآن کریم جملةً د رمضان المبارک دمیاشتې په څلورویشتم تاریخ کې د لوح محفوظ څخه د آسمان دنیا بیت العزت ته د لیلة القدر په شپه کې نازل شو او بیا به جبرائیل علیه السلام یو یو آیت او دوه دوه آیتونه په مختلفو وختونو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راوړل. بحر العلوم للسمرقندی(۱/ ۱۴۸)، تفسیر الطبري (۳/ ۴۴۵)، روح المعاني (۲/ ۶۱)

رمضان المبارك هغه میاشت ده ، چې په دې میاشت کې دجنت دروازې برسیره کیږي او د جهنم دروازې تړل کیږي او شیطانان په کې بندیږي او تړل کیږي. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِذَا جَاءَ رَمَضَانُ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ النَّارِ، وَصُفِّدَتِ الشَّيَاطِينُ» صحیح مسلم (۲/ ۷۵۸)

ژباړه: د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه ووسلم وفرمایل: کله چې د روژې میاشت راشي ، د جنت دروازې پرانستل شي ، او د جهنم دروازې وتړل شي او شیطانان وتړل شي .

رمضان المبارک هغه برکتي میاشت ده چې څوک د ثواب په نیت په دې میاشت کې روژه ونیسي او د شپې قیام اللیل (تراویح) وکړي، داسې به له ګناهونو پاک شي، لکه چې ده لره مور نوی زیږولی وي .یعنې لکه د مور څخه چې نوی پیدا شي.

په حديث شريف کې راځي: عن أَبِي سَلَمَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قال حَدَّثَنِي أَبِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَ شَهْرَ رَمَضَانَ فَقَالَ: «شَهْرٌ كَتَبَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ صِيَامَهُ، وَسَنَنْتُ لَكُمْ قِيَامَهُ، فَمَنْ صَامَهُ وَقَامَهُ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا خَرَجَ مِنْ ذُنُوبِهِ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ» سنن ابن ماجه (١/ ٤٢١)

ژباړه: له أبو سلمة ابن عَبْدُ الرحمن نه روايت دي، هغه وايي چې رَسُول اللَّهِ صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسلَّمْ د رمضان د مياشتی يادونه وکړه او داسې يې وفرمایل: چې دا هغه مياشت ده چې الله تعالى د هغې روژې پر تاسې فرض کړي دي او ما ستاسو لپاره ددې مياشتې قيام الليل(تراويح) سُنت گرځولي دي، نو څوک چې د رمضان المبارک روژې ونيسي او ددې په شپه کې قيام الليل(د تراويح لمونځ ) وکړي، د ايمان په بناء او د ثواب په نيت ، له گناهونو به داسې پاک شي لکه په کومه ورځ چې زيږولې ؤ ده لره مور دده.

د رمضان المبارک د کال په مياشتو کې هغه غوره او بهتره مياشت ده، چې په دې مياشت کې جبرائيل عليه السلام له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره قرآن کريم تکرارولو او په دې مياشت کې به رسول الله صلى الله عليه وسلم له تيز باد څخه هم زيات سخي ؤ.

په حديث شريف کې راځي: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ النَّاسِ، وَكَانَ أَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ حِينَ يَلْقَاهُ جِبْرِيلُ، وَكَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ فَيُدَارِسُهُ القُرْآنَ، فَلَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدُ بِالخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ المُرْسَلَةِ» صحيح البخاري (١/ ٨)

ژباړه: د حضرت عبدالله بن عباس څخه روايت دی هغه وايي، چې رسول الله صلي الله عليه وسلم تر ټولو خلکو زيات سخي ؤ ، او بيا (د نورو مياشتو په نسبت به) د رمضان المبارک په مياشت کې به زيات سخي ؤ، هغه وخت چې کله به ورسره ملاقات کولو جبرائيل عليه السلام او جبرائيل عليه السلام به ورسره په رمضان المبارک کې هره شپه ملاقات کولو او نبي عليه السلام به تکرارولو قرآن کريم له جبرائيل عليه السلام سره ، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم به ډيرزيات سخي ؤ په خير کې له روان باد څخه (په دوام د خير کې).

څوک چې د رمضان المبارک د مياشتې روژه ونيسي د الله تعالى د رضا په خاطر او د ثواب په نيت ، دده ټول گناهونه به وبښل شي.

په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَامَ رَمَضَانَ، إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» صحيح البخاري (١/ ١٦)

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت ، هغه وايي چې نبي عليه السلام وفرمایل: څوک چې روژه ونيسي د رمضان المبارک ، د ايمان په بناء او د ثواب په نيت ، وبه ښل شي ده ته د هغه مخکني گناهونه.

رمضان المبارک مياشت هغه عزتمنه مياشت ده چې په دې مياشت کې د روژې نيولو اجر الله تعالى (بلاکيف) په خپله ورکوي.

په يو قدسي حديث شريف کې راځي.عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: « يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: الصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ.» صحيح البخاري (٩/ ١٤٣)

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، نبي عليه السلام وفرمایل: چې الله تعالى فرمايي: روژه (خاص) زما لپاره ده او د روژې اجر به زه ورکوم(بلاکيف).

امام قرطبي رحمه الله ددې حديث په شرح کې وايي: ټول عبادات الله تعالى لپاره اداء کيږي ؛ خو د روژو اجر به ځکه الله تعالى په خپله (بلاکيف) ورکوي چې:

١-په روژه کې انسان منع کيږي دداسې لذتونو او شهوتونو څخه چې په نورو عباداتو کې انسان له هغې منع نه وي.

٢-بله داچې روژه يو پټ راز دی د بنده او دهغه د رب ترمنځ ، چې بل څوک پرې سوا دالله تعالی څخه نه پوهيږي او نورعبادات ټول ښکاره وي او د رياء او د نورو وجوهاتو رعايت په کې ممکن دی، نو ځکه د روژې اجر الله تعالی په خپله ورکوي.تفسير القرطبي (٢/ ٢٧٤)

رمضان المبارک هغه بابرکته مياشت ده چې په دې مياشت کې يوه شپه داسې ده چې په هغه شپه کې عبادت د زرو مياشتو له عبادت څخه غوره دی. الله تعالی فرمايلي دي:( لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ). القدر: (٣)ترجمه: شپه د قدر(عزت) غوره ده د زرو مياشتو څخه.

همداراز رمضان المبارک هغه د مغفرت او رحمت مياشت ده، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به يې په راتللو سره صحابه کرامو ته زيری ورکولو . رمضان المبارک هغه بهتره مياشت ده چې الله تعالی په کې نفلي عبادت د فرضو په درجه قبلوي.

په يو روايت کې راځي: عَنْ سَلْمَانَ قَالَ: خَطَبَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي آخِرِ يَوْمٍ مِنْ شَعْبَانَ، فَقَالَ: «أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ أَظَلَّكُمْ شَهْرٌ عَظِيمٌ، شَهْرٌ مُبَارَكٌ، شَهْرٌ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ، جَعَلَ اللَّهُ صِيَامَهُ فَرِيضَةً، وَقِيَامَ لَيْلِهِ تَطَوُّعًا، مَنْ تَقَرَّبَ فِيهِ بِخَصْلَةٍ مِنَ الْخَيْرِ، كَانَ كَمَنْ أَدَّى فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ، وَمَنْ أَدَّى فِيهِ فَرِيضَةً، كَانَ كَمَنْ أَدَّى سَبْعِينَ فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ، وَهُوَ شَهْرُ الصَّبْرِ، وَالصَّبْرُ ثَوَابُهُ الْجَنَّةُ، وَشَهْرُ الْمُوَاسَاةِ، وَشَهْرٌ يَزْدَادُ فِيهِ رِزْقُ الْمُؤْمِنِ، مَنْ فَطَّرَ فِيهِ صَائِمًا كَانَ مَغْفِرَةً لِذُنُوبِهِ، وَعِتْقَ رَقَبَتِهِ مِنَ النَّارِ، وَكَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْتَقِصَ مِنْ أَجْرِهِ شَيْءٌ. قَالُوا: لَيْسَ كُلُّنَا نَجِدُ مَا يُفَطِّرُ الصَّائِمَ. فَقَالَ: يُعْطِي اللَّهُ هَذَا الثَّوَابَ مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا عَلَى تَمْرَةٍ، أَوْ شَرْبَةِ مَاءٍ، أَوْ مَذْقَةِ لَبَنٍ، وَهُوَ شَهْرٌ أَوَّلُهُ رَحْمَةٌ، وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ، وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ، مَنْ خَفَّفَ عَنْ مَمْلُوكِهِ غَفَرَ اللَّهُ لَهُ، وَأَعْتَقَهُ مِنَ النَّارِ، وَاسْتَكْثِرُوا ». و قال ابن خزيمه : صح الخبر. صحيح ابن خزيمة ط ٣ (٢/ ٩١١)

ژباړه: د سلمان فارسي رضی الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې د شعبان په آخري ورځ کې رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته يوه خطبه وويله او داسې يې وفرمايل: ای خلکو! پر تاسو باندې د يوې عظيمې او له برکته ډکې مياشتې سيوری غوړيدونکی دی ، هغه يوه مبارکه مياشت ده، هغه داسې مياشت ده چې په هغې مياشت کې يوه داسې شپه ده (دقدرشپه )چې د زرو مايشتو نه غوره ده، الله جل جلاله ددغې مياشتې روژه فرض گرځولې ده، او(الله تعالی) گرځولی ده ددغه مياشتې قيام الليل (تراويح) نفلي (عبادت)، چاچې په دې مياشت کې يو د خير کار وکړ (يعنې نفلي عبادت يې وکړ) ، دا داسې دی لکه څوک چې فرضي عمل وکړي په نورو ورځو کې.

د رمضان المبارک مياشت د صبر مياشت ده او د صبر عوض جنت دی، د رمضان المبارک مياشت د خوا خوږۍ مياشت ده او دا داسې مياشت ده چې د مؤمن رزق په کې زياتيږي. څوک چې په دی مياشت کوم روژه دار ته روژه ماتی ورکړي ، دا کار به دده دگناهونو لپاره ښښنه وي او خلاصی به وي دده د غاړې د جهنم له اور څخه او وي به ددې کار لپاره دده په اندازه اجر بې له دې چې دده له اجر څخه څه کم شي.صحابه کرامو عرض وکړو او وه يې ويل: يا رسول الله صلی الله عليه وسلم! زمونږ څخه هريو کس د روژه ماتي ورکولو توان نلري ( نو آيا بی وزلي او مسکينان ددی ستر ثواب څخه محروميږي؟) رسول الله صلی الله عليه وسلم و فرمايل: الله جل جلاله دغه ثواب هغه چا ته هم ورکوي، چې يوه خرما يا يو گوټ اوبه او يا لږې شيدې کوم روژه دار ته په روژه ماتي کې ورکړي.بيا نبي عليه السلام وفرمايل: ددی مياشتې لومړی برخه رحمت دی او منځنی برخه يې مغفرت دی او وروستی برخه يې د جهنم د اور څخه خلاصی دی.بيا نبي عليه السلام وفرمايل: او هرڅوک چې په دی مياشت کې د خپلو غلامانو او خادمانو په کارونو کې کمښت او تخفيف راولي، الله جل جلاله بی يې وبښي او له اور څخه به يې خلاص کړي.

په يو حديث کې راځي: (عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُولُ وَقَدْ أَهَلَّ رَمَضَانُ: «لَوْ يَعْلَمُ الْعِبَادُ مَا فِي رَمَضَانَ لَتَمَنَّتْ أُمَّتِي أَنْ تَكُونَ السَّنَةُ كُلُّهَا رَمَضَانَ» . المقصد العلي في زوائد أبي يعلى الموصلي ، للهيثمي(٢/ ٢٢٦)

ژباړه: د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې هغه درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي دي چې نبي عليه السلام وفرمايل په داسې حال کې چې رمضان المبارک شروع شوی وه، که چيرې بنده ګان په دې پوهيدلی چې په رمضان المبارک کې څه دي(يعنې څومره اجرونه دي) ، نو خامخا زما امت به دا تمنّی او ارزو کړی وه ، چې(کاش) ټول کال رمضان وی.

## د روژې اړوند شرعي ضروري مسائل:

١-د روژې له شرطونو څخه اسلام دی،ځکه د کافر عمل نه قبليږي.
٢-د رمضان المبارك روژې نيت شرط دی او په زړه کې نيت مهم دی او په خوله د نيت ويل مستحب دي، افضله داده چې د شپې له خوا د روژې نيت وشي، که چيرې چا د شپې له خوا د روژې نيت ونکړ يا ورڅخه هير شو او بيا يې د ورځې د نيمايي څخه مخکې د روژې نيت وکړ ، نو روژه يې صحيح ده..(وقالوا التسحر في رمضان نية). حاشية الطحطاوي على المراقي (ص: ٤٢٧)
ژباړه: فقهاء کرام وايې چې په رمضان المبارک کې پيشلمی کول نيت دی .
٣-د روژې د فرضيت لپاره بلوغ شرط دی.د جينکو او هلکانو بلوغ له هغو مشخصو علاماتو معلوميږي، لکه حيض، احتلام، انزال.
د هلکانو د بلوغ کمه موده دولس کاله ده او د جينکو د بلوغ کمه موده نهه کاله ده او دا مختار قول دی.الدر المختار (٦/ ٤٤٨)
که چيرې په هلک او انجلی کې د بلوغ علامات ښکاره نشي او ددواړو عمر پنځلسو کلونو ته ورسيږي، نو دوی بالغان حسابيږي او په همدې قول فتوی ده. الدر المختار للخصفكي (٥/ ٤٤٨)
٤- د روژې دفرضيت لپاره پاکوالی شرط دی د هغه څه نه چې د روژې منافي وي، لکه حيض او نفاس.

که چيرې کومه زنانه د فجر صادق څخه مخکې پاکه شوه روژه نيول و رباندې فرض دي، ولو که د حيض يا نفاس څخه غُسل يې نه وي کړی، او که چيرې کومه زنانه د صبح صادق څخه وروسته پاکه شوه ددغه ورځې روژه يې نه صحيح کيږي ، خو په ورځ کې به د روژې ماتوونکو شيانو څخه ځان ساتي او ددغې ورځې روژې قضايي به راوړي.

٥-همدارنګه که څوک د روژې په ورځ ليونی شي او ليونتوب يې تر ماښام پورې دوام وکړ ، خو باطن ته يې روژه ماتوونکي شيان داخل شوي نه وي ، دده ددغې ورځې روژه صحيح ده.

٦-که چيرې چا پيشلمی وکړ او بيا د ورځې له خوا مسافر شو، نو روژه ماتول ورته جائز دي، خو روژه نيول ورته په سفر کې غوره او بهتره دي. الله جل جلاله فرمايلي دي:(أن تصوموا خير لكم إن كنتم تعلمون)

همدا راز که چيرې څوک د روژې په ورځ کې له سفر څخه کورته راشي او يا مقيم شي، نو باقي ورځ به د روژې ماتوونکو شيانو څخه ځان ساتي.

٧ -که چيرې چاته بغير له ارادې قیء ورغی ، نو روژه يې صحيح ده په دې شرط چې په دوهم ځل يې قصداً تير نکړي، خو که چيرې قصداً يې قیء بيرته تير کړ او قیء د خولې د ډکوالي په اندازه ؤ، نو روژه يې فاسده شوه او ددغې روژې قضايي به راوړي.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ ذَرَعَهُ القَيْءُ، فَلَيْسَ عَلَيْهِ قَضَاءٌ، وَمَنْ اسْتَقَاءَ عَمْدًا فَلْيَقْضِ» سنن الترمذي ت شاكر (٣/ ٨٩)

ژباړه: دابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې بیشکه نبي علیه السلام وفرمایل: چاته چې پیښ شو قیء، نو نشته په ده باندې قضایي راوړل د روژې او چاچې په قصد سره قیء وکړ، نو هغه دې (ددغه روژې) قضایې راوګرځوي.

٨-که چیرې څوک په هیره باندې څه وخوري او یا څه وڅښي او یا په هیره د خپلې ښځې سره کوروالی وکړي دده روژه صحیح ده.

همدا راز که چیرې دچا تش په کتو سره انزال وشو او یا یې سترګې تورې کړي او یا یې حجامت ولګولو او یا یې بې اختیاره ستونې ته لوګی تیر شو او یا یې ګرد تیر شو، اګر که ګرد د وړو ګرد ؤ او یا یې مچ تیر شو او یا د جنابت په حالت کې یې روژه ونیوله او یایې په غوږ کې اوبه ننوتلې ، نو دداسې کسانو روژه نه ماتیږي او روژه یې صحیح ده. نور الإیضاح (ص: ١٠٥)

٩-لاندې کارونه په روژه کې مکروه دي: پرته له عذره د شي څکل او یا جاوله ژوول او د ژاولې جوول، موچه اخیستل ورته مکروه ده ، که چیرې په ځان باندې باوري نه وي دانزال څخه او که چیرې د انزال او جماع کولو څخه په ځان باندې باوري وي ، نو بیا ورته موچه اخیستل مکروه نه دي. البحر الرائق (٢/ ٢٩٣)، نور الإیضاح (ص: ١١٠)

٩- په روژه کې د مسواک استعمالول، ولو که لوند او تازه هم وي مکروه نه دی، په روژه کې مضمضه او استنشاق مکروه نه دي ،په مفتی به قول سره ، په روژه کې غُسل کول او ځان له ګرمۍ څخه په لمده ټوټه یخول مکروه نه دي.

١٠- پیشلمی کول مستحب دي ، ځینې خلک پیشلمی نکوي او په بغیر له پیشلمي روژه نیسي. نبي علیه السلام فرمایي:(تَسَحَّرُوا فَإِنَّ فِي السَّحُورِ بَرَكَةً). صحيح مسلم (٣/ ١٣٠) .پیشلمی وکړئ ، ځکه په پیشلمي کې برکت دی.

١١-د پیشلمي د شپې په وروستی برخه کې مستحب دی، خو په پشلمي کولو کې احتیاط په کار دی او د اذان څخه مخکې یې بندول په کار دي ځینې کسان د آذان پر وخت هم پیشلمی کوي چې په دې کار کې د روژې د فاسدیدو امکان زیات دی.

همدارنګه روژه ماتی پر وخت کول مستحب دي ، مګر د شپې دداخلیدو څخه ځان مطمئن کول په کار دي او که چیرې په کوم اطرافي ځای کې د سهار آذان نه کیږي او په اسمان کې وریځ وي بیا د روژه ماتي تأخیرول مستحب دی.نور الإیضاح (ص: ١١١)

١٢-که څوک د مرض د زیادت څخه ویریږي او یا ددې څخه ویریږي چې په صحت یابۍ کې به یې تأخیر راشي ، په داسې حالاتو کې روژه نه نیول ورته مباح دي.

١٣-همدا راز کومه مور چې ماشوم ته شیدې ورکوي او یا حامله وي. که چیرې په خپل ځان او یا ماشوم باندې د عقل د نقصان څخه ویریږي او یا د مرګ څخه ویریږي ، داسې زنانه وو لره د روژې نه نیول مباح دي.خو دغه خوف اوویره به د وهم په بناء نه وي، بلکې دا ویره به دتجربې په اساس او یا د هوښیار مسلمان طبیب د وینا په اساس وي.

**ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم و تب علینا انک انت التواب الرحیم**

**تقبل الله منا ومنکم صالح الاعمال**

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**